رئاسة الشؤون الدينية
بالمسجد الحرام والمسجد النبوي

مِنْ أَحْكَامِ الصِّيَامِ | بشتو | پښتو

# د روژې له احکامو څخه

د مسجد الحرام او مسجد نبوي
د ديني چارو د رياست تر مشرۍ لاندې علمي کمېټه

**ⓒجمعية خدمة المحتوى الإسلامي باللغات ، ١٤٤٧هـ**

جمعية خدمة المحتوى الإسلامي باللغات
من أحكام الصيام - بشتو. / جمعية خدمة المحتوى الإسلامي
باللغات - ط١. .- الرياض ، ١٤٤٧هـ

٢٤ ص ؛ ..سم

**رقم الإيداع: ١٤٤٧/٣٨٩١**
**ردمك: ٨-٥٤-٨٥٧٠-٦٠٣-٩٧٨**

# مِنْ أَحْكَامِ الصِّيَامِ

# د روژې له احکامو څخه

اللَّجْنَةُ العِلْمِيَّةُ

بِرِئَاسَةِ الشُّؤُونِ الدِّينِيَّةِ بِالمَسْجِدِ الحَرَامِ وَالمَسْجِدِ النَّبَوِيِّ

# لومړی مبحث

# د روژې معنا، او د رمضان د روژې وجوب

**لومړی: د روژې معنا:**

روژه: د الله عبادت کول دي د هغو شیانو څخه په ځان ساتلو چې روژه ماتوي د سهار راختلو څخه تر لمر لوېدلو پورې.

**دویم: د رمضان د روژې وجوب:**

د رمضان روژه د اسلام له ارکانو څخه ده چې د مسلمان دین پرې ولاړ دی. روژه پر ټولو امتونو فرض شوې ده که څه هم د زمانې او کیفیت له اړخه توپیر لري؛ لکه څرنګه چې الله تعالی فرمایي: ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُتِبَ عَلَيۡكُمُ ٱلصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ ١٨٣﴾ [البقرة: ١٨٣]، ژباړه: «اې هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! پر تاسو باندې روژه فرض کړی شوې ده لکه چې فرض کړی شوې وه پر هغو کسانو چې له تاسو نه مخکې وو، د دې لپاره چې تاسو متقیان شئ». (البقرة سورت: ١٨٣ آیت)، او "کتب" په دې معنا چې فرض ګرځول شوې ده.

د روژې وجوب په کتاب، سنت او اجماع باندې ثابت دی.

- اما د کتاب دلیل یې: د الله تعالی دغه قول دی چې فرمایي:

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُتِبَ عَلَيۡكُمُ ٱلصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ ۝١٨٣ أَيَّامٗا مَّعۡدُودَٰتٖۚ ...﴾ [البقرة: ١٨٣ – ١٨٤]. **ژباړه:** «اې هغو کسانو چې ایمان يې راوړی دی! پر تاسو باندې روژه فرض کړی شوې ده لکه چې فرض کړی شوې وه پر هغو کسانو چې له تاسو نه مخکې وو، د دې لپاره چې تاسو متقیان شئ ❋ د شمېرل شویو ورځو روژې دي». (البقرة: ١٨٣ - ١٨٤).

- اما د سنت دلیل يې: د هغه صلی الله علیه وسلم دغه قول دی چې فرمايي: (بُنِيَ الإسْلَامُ علَى خَمْسٍ: شَهَادَةِ أنْ لا إلَهَ إلَّا اللهُ وأنَّ مُحَمَّدًا رَسولُ اللهِ، وإقَامِ الصَّلَاةِ، وإيتَاءِ الزَّكَاةِ، وصَوْمِ رَمَضَانَ، وَحَجِّ البَيْتِ) .

**ژباړه:** «اسلام پر پنځو شیانو بنا دی، د دې گواهي چې له الله پرته د بندگۍ وړ هېڅوک نه شته او محمد د الله رسول دی، لمونځ قايمول، زکات ورکول، د رمضان روژه نیول او د بیت الله حج کول»[1].

- او د اجماع څخه يې دلیل: ټولو مسلمانانو په دې اتفاق کړی چې د رمضان روژه فرض ده، او چا چې د دې روژې څخه انکار وکړ، هغه

(١) متفق علیه، بخاري په (٨) شمېره (١١/١)، او مسلم، په (١٦) شمېره (٣٤/١) روایت کړې دي.

کافر دی.

## دویم مبحث
## د رمضان میاشت فضیلتونه

د دې سترې میاشت لپاره سترې ځانګړتیاوې دي چې د نورو میاشتو څخه یې ځانګړې کوي، له هغو جملې څخه:

١) په دې میاشت کې قرآن کریم نازل شوی دی، لکه څرنګه چې الله تعالی فرمايي: ﴿شَهۡرُ رَمَضَانَ ٱلَّذِيٓ أُنزِلَ فِيهِ ٱلۡقُرۡءَانُ ...﴾ [البقرة: ١٨٥]. **ژباړه:** «رمضان هغه میاشت ده چې قرآن په کې نازل کړی شوی دی». (البقرة سورت: ١٨٥ آیت).

٢) په دې میاشت کې د جنت دروازې خلاصېږي؛ ځکه چې په دې کې ډېر نېک اعمال ترسره کېږي.

٣) په دې میاشت کې د دوزخ دروازې بندېږي؛ ځکه چې په دې کې ډېر ګناهونه کمېږي.

دغه خبره د رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې قول کې ذکر شوې ده: (إذا جاءَ رَمَضانُ فُتِّحَتْ أبْوابُ الجَنَّةِ، وغُلِّقَتْ أبْوابُ النَّارِ، وصُفِّدَتِ الشَّياطِينُ). **ژباړه:** «کله چې رمضان راشي، د جنت دروازې خلاصېږي، او د دوزخ دروازې بندېږي، او شیطانان په ځنځیرونو تړل

کېږي»[1].

٤) او همدارنګه له فضیلتونو څخه يې د رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه قول دی چې فرمايي: (ما مِن حسَنةٍ يَعْمَلُها ابنُ آدمَ إلَّا كتبَ لَهُ عشرُ حسَناتٍ إلى سَبعِ مائةِ ضعفٍ، قالَ اللهُ عزَّ وجلَّ: إلَّا الصِّيامَ فإنَّهُ لي، وأَنا أجزي بِهِ يدَعُ شَهْوتَهُ وطعامَهُ مِن أَجلي، الصِّيامُ جنَّةٌ. للصَّائمِ فرحَتانِ: فرحةٌ عندَ فطرِهِ، وفَرحةٌ عندَ لقاءِ ربِّهِ. ولَخُلوفُ فَمِ الصَّائمِ أطيَبُ عندَ اللهِ مِن ريحِ المِسكِ). **ژباړه:** «د بنی آدم د هر عمل نیکۍ یو په لسه تر اووه سوه چنده پورې زیاتېږي، الله تعالی فرمايي: پرته له روژې څخه، چې هغه زما لپاره ده او زه پرې اجر ورکوم، ځکه هغه زما لپاره خپل خواهشات او خوراک پرېږدي، او روژه ډال دی، د روژه دار لپاره دوه خوښۍ دي چې خوشحاله کوي يې: کله چې روژه ماته کړي نو خوشحاله شي او کله چې د خپل رب سره مخ شي نو په خپله روژه خوشحاله شي، او د روژه دار انسان د خولې بوی د الله تعالی په نزد د مشکو له بوی څخه پاکیزه دی»[2]. نو د روژې څو چنده کېدل په شمېر

(١) متفق علیه، بخاري په (١٨٩٨) شمېره (٢٥/٣)، او مسلم په (١٠٧٩) شمېره (٧٥٨/٢) روایت کړي دي.

(٢) نسائي په الکبری شمېره ٢٥٣٦ (١٣١/٣) کې نقل کړی دی.

پورې محدود نه دي.

٥) څکه چې په روژه کې د نورو عبادتونو په پرتله اخلاص ډېر وي؛ د هغه صلی الله علیه وسلم د قول پر اساس چې فرمايي: (تَرَكَ شَهْوَتَهُ وَطَعَامَهُ وَشَرَابَهُ مِنْ أَجْلِيْ). ژباړه: «زما لپاره يې خپل شهوت، خواړه او څښاک پرېښود»[1].

٦) الله تعالی د روژه نيوونکو لپاره د جنت يوه دروازه ځانګړې کړې ده چې (ريان) نومېږي، چې له هغې څخه نور څوک نه شي ننوتلی.

٧) د روژه نيوونکي لپاره يوه دعا ده چې نه ردېږي؛ لکه څرنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې حديث کې فرمايي: (للصَّائمِ عندَ فطرهِ دعوةً لا تُرَدُّ). ژباړه: «د افطار پر وخت کې د روژه نيوونکي لپاره داسې دعا ده چې نه ردېږي»[2].

٨) او د هغه صلی الله علیه وسلم دغه قول: (مَن صَامَ رَمَضَانَ، إيمَانًا واحْتِسَابًا، غُفِرَ له ما تَقَدَّمَ مِن ذَنْبِهِ). ژباړه: «څوک چې د رمضان روژه په

(١) مخکنی تخريج و ګورئ.

(٢) ابن ماجه په شمېره ١٧٥٣ (٧٧٥/١) کې نقل کړې دی.

ایمان او د ثواب په نیت ونیسي؛ د هغه مخکني ګناهونه بخښل کېږي»[1].

نو مسلمان لپاره اړین ده چې باید د ایمان او ثواب په نیت روژه ونیسي ترڅو اجر او د ګناهونو بخښنه ترلاسه کړي.

## دریم مبحث

## هغه څه چې د رمضان میاشت داخلېدل ثابتوي

د رمضان میاشت داخلېدل په دوو شیانو باندې ثابتېږي:

۱) د رمضان هلال -سپوږمۍ- لېدل؛ لکه څرنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې حدیث کې فرمايي: (إذا رأيتُمُ الهلالَ فَصوموا، وإذا رأيتُموهُ فأفطِروا، فإن غُمَّ عليكُم فاقدُروا لَهُ)، **ژباړه:** «کله مو چې هلال -سپوږمۍ- ولیده، نو روژه ونیسئ، او کله مو چې هلال - سپوږمۍ- ولیده، نو روژه ماته کړئ، او که لیدل يې ناشونی وي، نو د شعبان میاشت بشپړه کړئ»[2]، او همدارنګه فرمايي: (لَا تَصُومُوا حَتَّى تَرَوُا الهِلَالَ، وَلَا تُفْطِرُوا حَتَّى تَرَوْهُ). **ژباړه:** «تر هغه چې سپوږمۍ - هلال- مو نه وي لیدلی روژه

---

(۱) متفق علیه، بخاري په (۳۸) شمېره (۱/۱٦)، او مسلم په (۷٦۰) شمېره (۱/۵۲۳) روایت کړی دی.

(۲) امام احمد په المسند شمېره ٦۳۲۳ (۱۰/٤۰۲)، او نسائي په الکبری شمېره ۲٤٤٦ (۳/۱۰۲) کې نقل کړی دی.

مه نیسئ، او تر هغه چې مو نه وي لیدلي روژه مه ماتوئ»[1].

۲) که چېرې سپوږمۍ -هلال ونه لیدل شي، نو د شعبان میاشت دېرش ورځې بشپړ کړئ؛ لکه څرنګه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: (الشَّهْرُ تِسْعٌ وعِشْرُونَ لَيْلَةً، فلا تَصُومُوا حتَّى تَرَوْهُ، فإنْ غُمَّ عليْكُم فأكْمِلُوا العِدَّةَ ثَلَاثِينَ). **ژباړه:** «میاشت نهه ویشت شپې دي، نو تر هغه وخته پورې روژه مه نیسئ چې هلال ونه وینئ، که چېرې لیدل یې نا شوني وي، نو دېرش ورځې بشپړې کړئ»[2].

## څلورم مبحث
## روژه کې نیت

نیت د هر عمل د صحت لپاره شرط دی، د رمضان د روژې لپاره نیت اړین دی چې باید له شپې څخه نیت وشي؛ لکه څرنګه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: (مَن لم يُبَيِّت الصِّيامَ قَبلَ الفَجرِ، فلا صيامَ لَهُ). **ژباړه:** «چا چې د روژې نیت د سهار نه مخکې ونه کړو نو د هغه

(۱) متفق علیه، بخاري په (۱۹۰٦) شمېره (۲۷/۳)، او مسلم په (۱۰۸۰) شمېره (۷۵۹/۲) روایت کړی دی.
(۲) متفق علیه، بخاري په (۱۹۰۷) شمېره (۲۷/۳)، او مسلم په (۱۰۸۱) شمېره (۷٦۲/۲) روایت کړی دی.

روژه نشته»[۱].

شيخ الاسلام ابن تيمية رحمه الله وايي: **ژباړه:** "څوک چې پوهيږي چې سبا رمضان دی او غواړي روژه ونيسي، نو د روژې نيت يې کړی دی، که هغه په ژبه نيت وکړي يا نه. دا د ډېرې مسلمانانو عمل دی، چې ټول يې د روژې نيت لري"[۲].

## پنځم مبحث

## روژه پر چا باندې فرض ده؟

روژه پر هر مسلمان، بالغ او عاقل فرض ده.

که چېرې روغ او مقيم وي: نو پرې فرض دی چې روژه ونيسي. او که چېرې ناروغ وي: نو پرې فرض دی چې قضا يې راوړي.

او که چېرې روغ وي او مسافر وي: نو هغه اختيار لري چې روژه نيسي او که افطار کوي، خو افطار غوره دی.

- او روژه پر کافر فرض نه ده، او له هغه څخه نه قبلېږي، او که چېرې د رمضان د مياشتې په جريان کې توبه وکړي، نو پاتې ورځې بايد روژه ونيسي، او تېر شويو ورځو قضا ورباندې نشته کوم چې د کفر په

(۱) نسائي په الکبری (۲٦٥۲) شمېره (۱۷۰/۳) کې روايت کړی دی.

(۲) الفتاوی الکبری (٤٦۹/۲).

حالت کې و.

- او روژه پر کوچنی فرض نه ده، خو که چېرې ممیز وي، نو روژه یې صحیحه ده، او هغه لپاره په نفل کې حسابېږي.

- روژه پر لېوني فرض نه ده، که څه هم د لېونتوب په حالت کې روژه ونیسي، روژه یې صحیح نه ده؛ ځکه چې نیت شتون نه لري.

## شپږم مبحث

## څوک د روژې په نه نیولو سره معذور دي؟

په رمضان کې د روژې په نه نیولو سره لاندې کسان معذور دي:

۱) هغه ناروغ چې روژه پرې سخته وي، نو هغه لپاره افطار کول مستحب دی.

۲) هغه مسافر چې په سفر کې وي، او یا د رمضان میاشت کې د سفر تصمیم ونیسي او د سفر مسافه یې اتیا کیلو متره او یا له دې څخه ډېره وي.

۳) د حیض او نفاس په موده کې، حایضه او نفساء باندې روژه نیول حرام دي؛ لکه څرنګه چې عائشه رضي الله عنها وایي: **ژباړه:** «موږ ته به دا را پیښ شو، نو موږ ته به د روژې د قضا راوړلو امر وشو، مګر د

لمانځه د قضا راوړلو امر به نه کېده»[1].

٤) هغه څوک چې اوږدمهاله ناروغي ولري او د درملنې تمه يې نه کېږي او د دوامداره ناتوانۍ له امله نشي کولی روژه ونيسي، بايد خپله روژه ماته کړي او د هرې ورځې په بدل کې يو مسکين ته نيمه پیمانه (صاع) غنم يا نور خواړه ورکړي، او پر هغه د روژې قضا نه شته.

٥) هغه بوډا کس چې د روژې نيولو توان نه لري، بايد خپله روژه ماته کړي او د هرې ورځې په بدل کې يو مسکين ته خواړه ورکړي، او هغه باندې قضا نه شته.

٦) که چېرې اميندواره يا شېدې ورکوونکې ښځه د روژې له امله ځان يا خپلو ماشومانو ته د زيان رسولو وېره ولري، نو بايد روژه ماته کړي او قضا يې راوړي، که چېرې هغه يوازې د خپل ماشوم د وېرې له امله روژه ماته کړي، نو بايد د قضا د راوړلو سربېره د هرې ورځې په بدل کې يو مسکين ته خواړه ورکړي.

## اوم مبحث

(١) مسلم په خپل صحيح په شمېره ٣٣٥ (١/٢٦٥)٠ کې نقل کړی دی.

# د روژې ماتوونکي

## ۱- جماع:

که چېرې یو څوک د روژې په میاشت کې د ورځې په اوږدو کې جماع وکړي، نو د هغه روژه باطلېږي، او هغه باید د ورځې پاتې برخه له خوړلو او څښلو څخه ډډه وکړي، هغه باید توبه وباسي، بخښنه وغواړي، او د هغې ورځې قضا دې راوړي چې جماع یې کړې وه، او هغه باید کفاره هم ورکړي، چې کفاره یې: د یو غلام آزادول دي، که هغه نه شي موندلی، نو باید دوه میاشتې پرله پسې روژه ونیسي، او که دوه میاشتې پرله پسې روژه نشي نیولی، نو باید شپیته مسکینانو ته خواړه ورکړي، هر مسکین ته نیمه پیمانه (صاع) غنم یا نور هغه خواړه ورکړي چې په هیواد کې عام وي.

## ۲- د مني انزالول، د ښکلولو، لمس کولو، استمنا، یا مکرر لیدلو له امله:

که چېرې د روژه لرونکي د دې لاملونو څخه د یو له امله انزال وشي، نو د هغه روژه باطلېږي، او هغه باید خپلې روژې ته دوام ورکړي، د هغې ورځې قضا دې راوړي، او هغه باندې کفاره نشته، مګر هغه باید توبه وکړي، او د خپلې کړنې څخه دې پښیمانه شي، او بخښنه دې

وغوارې، او له هغو شیانو څخه دې ځان لرې وساتي چې شهوت راپاروي؛ ځکه چې هغه په یو ستر عبادت کې دی.

**۳- په قصدي ډول خوړل او څښل.**

**٤- د روژه نیوونکي څخه د وینې اخیستل د حجامې،** د رګ پرې کول، او یا د وینې د ورکولو لپاره د وینې راوېستل.

په حجامه کې اصل د رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه قول دی: (أفطَرَ الحاجِمُ والمَحجومُ). **ژباړه:** «حجامه کوونکي او حجامه کېدونکي دواړو خپله روژه ماته کړه»[(١)].

شیخ الاسلام ابن تیمیة رحمه الله وایي: "دا خبره چې حجامه کول روژه ماتوي، د ډېرې حدیث پوهانو نظر دی، لکه احمد بن حنبل، اسحاق بن راهویه، ابن خزیمه، ابن المنذر، او نور"[(٢)].

د روژه لروونکي څخه په غیر قصدي ډول د وینې بهېدل، لکه د پوزې وینه، د جراحت وینه، د غاښ ایستلو وینه، او داسې نور، دا په روژې باندې اغېز نه کوي.

(١) بخاري په (١٩٣٧) شمېره (٣٣/٣)، او احمد په خپل مسند کې په (٢٦٢١٧) شمېره (٢٧٨/٤٣) کې نقل کړې دی.

(٢) مجموع الفتاوی (٢٥٢/٢٥).

## ۵- کانګې کول:

دا د خولې له لارې له معدې څخه د خوړو یا خښناک قصدي ایستل دي، خو که هغه کانګې وکړي او په غیر ارادي ډول ترې راوځي، نو دا د هغه په روژه اغیزه نه کوي؛ ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: (مَن ذَرَعه القَيءُ فليس عليه قَضاءٌ، ومَنِ استَقاءَ فليَقضِ). **ژباړه:** «هغه څوک چې پرته له اختیاره کانګې وکړي هغه باندې قضا نشته، او څوک چې په قصدي ډول کانګې وکړي باید قضا راوړي»[(۱)]. د ذرعه معنا: غالبېدل دي.

# اتم مبحث

# د روژې مستحبات

۱) پېشلمی؛ د انس بن مالک رضی الله عنه د حدیث له مخې، چې وايي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: (تَسَحَّرُوا؛ فإنَّ في السَّحُورِ بَرَكَةً). **ژباړه:** «پېشلمی -سحري- وکړئ؛ ځکه چې په سحري کې برکت دی»[(۲)].

(۱) امام احمد په خپل مسند کې په (۱۰٤٦۳) شمېره (۲۸۳/۱٦)، او ترمذي په الجامع الکبیر (۷۲۰) شمېره (۹۱/۲) کې نقل کړی دی.

(۲) متفق علیه، بخاري په (۱۹۲۳) شمېره (۲۹/۳)، او مسلم په (۱۰۹٥) شمېره (۷۷۰/۲)

٢) د پېشلمي ځنډول؛ تر هغه چې د سهار د راختلو وېره نه وي.

٣) د لمر لوېدو وروسته د روژې په ماتولو کې بيړه کول. رسول صلى الله عليه وسلم وفرمايل: (لا تَزَالُ أُمَّتي بِخَيْرٍ مَا أَخَّرُوْا السَّحُوْرَ وَعَجَّلُوا الْفِطْرَ). **ژباړه:** «زما امت به تر هغه پورې په خير کې وي تر څو چې پېشلمی ځنډوي او په روژه ماتولو کې بيړه کوي»[1].

٤) په تازه کجورو روژه ماتول مستحب دي، که چېرې و نه موندل شي، په وچو کجورو دې روژه ماته کړي، که چېرې و نه موندل شي په اوبو دې روژه ماته کړي؛ د انس رضي الله عنه د قول په اساس: (كَانَ رسولُ الله صلى الله عليه وسلم يُفْطِرُ على رُطَبَاتٍ قَبلَ أنْ يُصَلِّي، فإنْ لم تَكُنْ رُطَبَاتٍ فعَلى تَمَراتٍ، فإِنْ لَم تَكُنْ تَمْراتٌ حَسَا حَسَوَاتٍ من ماءٍ). **ژباړه:** «د الله رسول صلى الله عليه وسلم به د لمانځه څخه مخکې په تازه کجورو سره روژه ماتوله، که تازه کجورې به نه وې، نو په وچو کجورو سره، او که هغه به هم نه وې، نو په څو غړپو اوبو سره به يې

روايت کړی دی.

(١) احمد په خپل مسند په (١٢٥٠٧) شمېره (٣٩٩/٣٥) کې روايت کړی دی.

ماتوله»[1].

٥) د روژه لرونکي لپاره مستحب دی چې د روژې د ماتولو پر مهال دې هغه دعاګانې وکړي چې خوښ يې وي، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: (إِنَّ لِلصَّائِمِ عِنْدَ فِطْرِهِ دَعْوَةً لَا تُرَدُّ). **ژباړه:** «د روژه ماتي پر وخت د روژه نيوونکي لپاره داسې دعا ده چې نه ردېږي»[2].

٦) د عبادتونو په ټولو بڼو کې زياتوالی؛ لکه د قرآن کريم لوستل، د الله تعالی ذکر، قيام الليل (تهجد)، د تراويح لمونځ، د سنتو لمونځ، صدقه ورکول، او د نيکۍ په لاره کې لګښت او انفاق کول؛ ځکه چې نېک کارونه بد کارونه له منځه وړي.

## نهم مبحث
## خبرتياوې

• روژه لرونکی بايد له دروغو، غيبت او ښکنځلو څخه ډډه وکړي، که څوک ورته سپکاوی يا ښکنځلې وکړي، نو هغه بايد په ځواب کې ووايي: زه روژه يم.

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: (الصِّيَامُ جُنَّةٌ فلا يَرْفُثْ ولَا

(١) ابو داود په (٢٣٥٦) شمېره (٣٠٦/٢) روايت کړی دی.

(٢) ابن ماجه په (١٧٥٣) شمېره (٧٧٥/١) روايت کړی دی.

يَجْهلْ، وإنِ امْرُؤٌ قَاتَلَهُ أَوْ شَاتَمَهُ فَلْيَقُلْ: إنِّي صَائِمٌ مَرَّتَيْنِ). **ژباړه:** «روژه ډال دی نو بد رد دې نه وايي او په ناپوهۍ سره دې عمل نه کوي (چغې دې نه وهي)، که چېرته چا ورسره شخړه وکړه او يا يې ورته کنځلې وکړې، نو دوه ځله دې ووايي چې زه روژه دار يم»[1].

• هغه څه چې روژه لروونکي لپاره منع دي: مضمضه او استنشاق کې مبالغه کول؛ ځکه چې ممکن اوبه د هغه معدې ته لاړې شي.

نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي: (وَبَالِغْ في الإستنشاقِ إلّا أن تكونَ صائمًا). **ژباړه:** «او په استنشاق کې مبالغه وکړه، مګر دا چې روژه اوسې»[2].

- مسواک وهل روژې ته ضرر نه رسوي، بلکې مستحب دی او د روژه لرونکي او نورو لپاره د ورځې په اول او اخر کې يې سپارښتنه کېږي، د صحيح قول پر اساس.

## لسم مبحث

## د رمضان قضا

(۱) بخاري په (۱۸۹٤) شمېره (۲٤/۳) روايت کړی دی.

(۲) ابو داود په (۲۳٦٦) شمېره (۳۰۸/۲)، او ترمذي په الجامع الکبير (۷۸۸) شمېره (۱٤۷/۲) روايت کړی دی.

څوک چې د رمضان په میاشت کې د کوم مشروع عذر له امله روژه ماته کړي، لکه هغه شرعي عذر چې له امله یې روژه ماتول جواز لري، یا د کوم حرام عذر له امله، لکه یو څوک چې د جنسي اړیکو (جماع) یا بل څه باندې خپله روژه باطله کړي، نو باید د هغې قضا راوړي؛ لکه څنګه چې الله تعالی فرمایي: ﴿ ... فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ ...﴾ [البقرة: ١٨٤]. **ژباړه:** «(نو په هغه باندې) د نورو ورځو شمیرل دي». (البقرة سورت: ١٨٤ الآیت). او هغه لره مستحب ده چې د قضا راوړلو لپاره بیړه وکړي؛ ترڅو ذمه داري یې خلاصه شي، او دا مستحب ده چې قضا پرله پسې وي؛ ځکه چې قضا د ادا په څېر ده، که څه هم هغه لره ځنډول یې جواز لري؛ ځکه چې وخت یې اوږد دی.

او همدارنګه هغه کولی شي په جلا توګه یې قضایي راوړي، که چېرې د شعبان تر پایه پورې د قضا شویو روژو په اندازه وخت پاتې وي، نو قضا په پرله پسې ډول اړینه ده؛ د وخت د کمښت له امله، او دا جواز نه لري چې د بل رمضان څخه وروسته یې پرته له کوم عذر څخه وځنډوي.

• څوک چې د روژې قضا تر راتلونکي رمضان پورې وځنډوي، دوه حالتونه لري:

که چیرې هغه د کوم مشروع عذر له امله روژه وځنډوي، لکه دا چې ناروغي یې تر راتلونکي رمضان پورې دوام وکړي، نو هغه باید یوازې د هغې کفاره ورکړي.

که چېرې هغه پرته له کوم عذر څخه روژه وځنډوي، نو هغه باید د روژې د قضاء سربېره، د هرې ورځې په بدل کې د هیواد د اصلي خوراکي توکو څخه نیمه پیمانه (صاع) یو مسکین ته خواړه ورکړي.

• د نفلي روژې نیول د هغه چا لپاره چې هغه باندې د قضا روژه پاتې وي: که چا باندې د رمضان له روژې څخه څه پاتې وي، غوره دا ده چې مخکې له نفلي روژې څخه، لومړی خپل قضا ترسره کړي، مګر، که چېرې نفلي روژه داسې وي چې وخت یې تېرېږي، لکه د عرفې او عاشورا روژې، نو په دې حالت کې د قضایي روژې څخه دې دمخه روژه ونیسي، ځکه چې د قضایي روژې وخت اوږد دی، او د عاشورا او عرفې وخت تېرېږي، مګر د شوال شپږ ورځې روژه نه نیسي مګر د

قضايي روژې وروسته.

دا هغه څه وو چې راټولول يې ممکن وو.

وصلى الله وسلَّم على نبينا محمد وعلى آله وصحبه وسلَّم تسليمًا كثيراً.

# فهرست


لومړی مبحث ........................................ ۱

د روژې معنا، او د رمضان د روژې وجوب ........................ ۱

دویم مبحث ........................................ ۳

د رمضان میاشت فضیلتونه .................................. ۳

دریم مبحث ........................................ ٦

هغه څه چې د رمضان میاشت داخلېدل ثابتوي ...................... ٦

څلورم مبحث ........................................ ۷

روژه کې نیت ........................................ ۷

پنځم مبحث ........................................ ۸

روژه پر چا باندې فرض ده؟.................................. ۸

شپږم مبحث ........................................ ۹

څوک د روژې په نه نیولو سره معذور دي؟ ........................ ۹

اوم مبحث ........................................ ۱۰

د روژې ماتوونکي ........................................ ۱۱

اتم مبحث ........................................ ۱۳

د روژې مستحبات ........................................ ۱۳

نهم مبحث ........................................ ۱۵
خبرتیاوې ........................................ ۱۵
لسم مبحث ........................................ ۱۶
د رمضان قضا ........................................ ۱۶

رئاسة الشؤون الدينية بالمسجد الحرام والمسجد النبوي

# رسالة الحرمين

## د حرمين پيغام

د مسجد الحرام او مسجد نبوي زيارت کونکو لپاره لارښود مواد په ژبو کې

978-603-8570-54-8